# د خپلواکو پرېکړو نیولو پروسه کې ستاسو کورنۍ او ټولنه څنګه شامل کړئ

د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامه (SDP) تاسو ته ستاسو په خدمتونو او ملاتړونو واک درکوي، مګر تاسو اړ نه یاست چې دا پروسه یوازې ترسره کړئ. ستاسو د کورنۍ او ټولنې ګډون کولی شي اضافي ملاتړ او نظرونه وړاندې کړي ترڅو یو داسې پلان جوړ شي چې ستاسو لپاره ګټور وي. دا لارښود تشریح کوي چې څنګه خپل عزیزان او ټولنه د SDP په پروسه کې شامل کړئ.

## ولې خپله کورنۍ او ټولنه شامل کړئ؟



د خپلې کورنۍ او ټولنې شاملول کولی شي په SDP کې ستاسو سفر اسانه کړي. دلیل یې دا دی:

- اضافي ملاتړ: د کورنۍ غړي کولی شي له تاسو سره د پرېکړو کولو او د سیمه ییز مرکز سره په غونډو کې ګډون کولو کې مرسته وکړي.
- نوښتګر نظرونه: ستاسو عزیزان کولی شي ستاسو د اهدافو ترلاسه کولو لپاره نوې لارې درته وړاندې کړي، لکه د داسې خدمتونو یا فعالیتونو موندل چې ستاسو په زړه پورې وي.
- پیاوړې مدافعه: کورنۍ او دوستان کولی شي ستاسو اړتیاوو لپاره غږ پورته کړي او ډاډ ترلاسه کړي چې ستاسو انتخابونو ته درناوی کیږي.
- پراخه شبکه: ستاسو د ټولنې اړیکې کولی شي نوي خدمتونه وړاندې کوونکي، فعالیتونه یا د دندې فرصتونه موندلو کې تاسو سره مرسته وکړي.

## ستاسو پر فرد تمرکز کوونکي پلان (PCP) کې د کورنۍ او ټولنې د شاملولو لپاره ګامونه



1. دوی د پلان جوړولو په پروسه کې له ځان سره راولئ
   - ستاسو د خپلواکه اسانتیاوې برابروونکي (IF) یا د خدمت همغږي کوونکي سره د لیدنو لپاره کورنۍ او باوري ملګرو ته بلنه ورکړئ. دوی کولی شي نظرونه شریک کړي او یقیني کړي چې خدمتونه ستاسو د ارزښتونو او کلتور سره سمون لري.
2. د ملاتړ حلقه یعنې ډله جوړه کړئ
   - ستاسو د ملاتړ حلقه یعنې ډله د خلکو د یوې داسې ډلې په معنی ده چې له تاسو سره ستاسو د اهدافو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي. دا کیدی شي کورنۍ، دوستان، ګاونډیان یا ستاسو په ټولنه کې نور کسان وي. دوی کولی شي مشوره درکړي او د راتلونکې لپاره پلان جوړولو کې ستاسو سره مرسته وکړي.
3. د کلتور او ژبې اړتیاوې په پام کې ونیسئ
   - که تاسو له انګلیسي پرته په بله ژبه خبرې کوئ یا مهم کلتوري دودونه لرئ، نو خپله کورنۍ او ټولنه د داسې خدمتونو او وړاندې کوونکو په ټاکلو کې شامل کړئ چې په دغو اړتیاوو پوهیږي او درناوی یې کوي.



## د کورنۍ د ګډون لپاره عملي طریقې

- د SDP د پیژندنې او لارښوونې په مراسمو کې ګډون وکړئ:
  - ستاسو کورنۍ کولی شي له تاسو سره د SDP د پیژندنې او لارښوونې په مراسمو کې ګډون وکړي ترڅو د دې برنامې له قوانینو او ګټو څخه خبر شي.
- کاغذي یعني دفتري پروسو او وکالت کې مرسته
  - د SDP پروسه کیدی شي ډېره سخته وي. ستاسو کورنۍ کولی شي په ځینو کارونو کې درسره مرسته وکړي لکه په فورمې ډکولو کې، له خدماتو وړاندې کوونکو سره اړیکه نیولو کې او دا ډاډ ترلاسه کولو کې چې ستاسو انتخابونه منل کیږي.



## د ټولنې سرچینو سره اړیکه نیول

- ملاتړي ډلو کې شامل شئ:
  - ځینې ټولنې د SDP خلکو لپاره سیمه ییزې یا آنلاین ملاتړي ډلې یعني ګروپونه لري. دا ډلې کولی شي مشوره ورکړي، تجربې شریکې کړي او د ملاتړ یوه شبکه چمتو کړي.
- د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامې د سیمه ییز مشورتي کمیټې (SDLAC) په غونډو کې ګډون وکړئ:
  - هر سیمه ییز مرکز د خپلواکو پرېکړو نیولو د برنامې سیمه ییزه مشورتي کمیټه (SDLAC) لري چې غونډې ترسره کوي ترڅو د برنامې په اړه خبرې اترې وکړي او په دې اړه چې دا د شاملو کسانو لپاره څنګه کار کوي. دا غونډې د عامه خلکو لپاره پرانیستې وي او ستاسو او ستاسو د کورنۍ لپاره د برنامې په اړه لا زیات معلومات ترلاسه کولو، له نورو سره اړیکه نیولو او نظرونه شریکولو لپاره یوه ښه لاره ده.



## د SDLAC غونډو کې د ګډون ګټې:

- شبکه جوړونه: له نورو ګډونوالو، خپلواکو اسانتیاوې برابروونکو او خدمتونو وړاندې کوونکو سره ووینئ.
- باخبر اوسئ: د SDP پالیسیو کې د تازه معلوماتو یا بدلونونو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.
- د ټولنې ګډون: خپلې تجربې شریکې کړئ او د نورو څخه واورئ. دا یو فرصت دی چې د هر چا لپاره د SDP پروسې په ښه کولو کې مرسته وکړئ.



## د کورنۍ او ټولنې د ګډون ګټې

- مدافعه او ملاتړ: د کورنۍ او ټولنې د ګډون له لارې، تاسو د خلکو یو داسې ټیم لرئ چې ستاسو د اړتیاوو لپاره مدافعه کوي او ډاډ ترلاسه کوي چې ستاسو انتخابونو ته درناوی کیږي.
- حساب ورکونه: ستاسو کورنۍ او ټولنه کولی شي ستاسو د پلان په سمه توګه ساتلو کې مرسته وکړي او ډاډ ترلاسه کړي چې تاسو خپلو هدفونو ته ورسیږئ.
- نوي فرصتونه: کورنۍ او ټولنه کولی شي تاسو ته داسې نوي خدمتونه، دندې او فعالیتونه معرفي کړي چې ستاسو د هدفونو سره سمون لري.

د خپلواکو پرېکړو نیولو په برنامه کې د خپلې کورنۍ او ټولنې شاملول تاسو سره مرسته کوي چې یو داسې پلان جوړ کړئ چې شخصي وي، کلتوري درناوی لري او ستاسو د اهدافو په بشپړه توګه ملاتړ کوي. د دوی په مرسته، تاسو کولی شئ د ملاتړ یوه شبکه جوړه کړئ ترڅو خپل خوبونه/ارمانونه ترلاسه کړئ او یو بامقصده ژوند وکړئ.

**نن د پیل لپاره د خپل سیمه ییز مرکز د خدماتو همغږي کوونکي سره خبرې وکړئ!**


**د** Alta California Regional Center **د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامې** (Self-Determination Program) **سیمه ییزې مشورتي کمیټې لخوا تمویل شوی دی**

SDPQuestions@altaregional.org

**د خپلواکو اسانتیا برابرونکو د روزنې اکاډمۍ په همکارۍ سره** www.iftrainingacademy.com